نویسنده: ظاهر ملک بابا | تاریخ:

## نهیلیزم څه ته وایی او کله پیداشو :



**ظاهر ملک بابا**

نهیل (Nihil)یونانی کلمه ده چه د هیڅ یا پوچ معنی ورکوی .

ابزم ( ایدیولوژی یا مکتب ) په معنی ده،کله چه په غرب کی د عیسوی دین په تقلیدی مرجعیت بیا خصوصاً انجیل په متونو کی د بطلیموس قبول شوی اوتعلیم شوی ۱۵ قرنه نظریات چه ځمکه ثابته اومرکز د کایناتو ده، دغرب یو تعداد متفکرینو لکه کپلر،کوپرنیک، گالیله او نورو له خواه علما پدی غلط ثابت کړای شوه چه ځمکه مرکز د کایناتو نه، بلکی خپله متحرکه او د لمر پر محورڅرخی،او همدا رنگه نورداسی نظریات چه دعلم سره په ټکرکی وه،د خلکو په دینی باورو پس له یونیم زر کلو سیوری واچوو، نو د مرجعیت بنیاد ورځ تر بلی په سوستیدو شو بیا خصوصاً دچارلیز داروین نظریاتو د زرگونو کلو انسانی باورونو لوړ دیوالونه یی له بنیاده ړنگ کړل.

پدی دوران کی چه د غرب مدرنیته دوران په نامه هم یادیږی یوتعداد نورمتفکرین چه د ژوند معنی او هدف چه ولی پیدا کیږو؟ او ولی مړه کیږو؟ یی په دینی تعلیماتو کی نه شو پیدا کولای خپله دانسانی عقل اوخرد په رڼا کی لاس په کار او یو فلسفی مکتب یی د نهیلیستانو ایجاد کړ، چه پدی لړ کی د هایدگر،البرت کامولیکنی ولی ترټولو دمخه پدی اړوند دیو آلمانی فیلسوف فریدریش نیچه نوم او لیکنی مخی ته راځی .

نیچه په خپل کتاب (زردشت داسی وویل ) کی لیکی :هیڅ هدف اونظم په جهان کی نشته، هرڅه باندی چه انسان باورکوی یا حقیقت گنی هغه بیاهم دانسان د ذهن زیږیدنه ده حقیقت نه لری.

نهیلزم فلسفه پدی استواره ده چه ژوند کوم معنی نه لری هرڅه په نهایت کی هیڅ دی.

نهیلیزم دسیاسی او قانونی ساختارو اوهمدارنگه د ټولنیز اخلاقی کودونو په ضد فلسفه ده ، دا ټول ټولنیز اخلاقی او دولتی ساختارونه هغه زنځیرونه گڼی چه انسان خپله خپل طبعی آزادی پرخلاف ایجاد کړی دی .

نهیلستان پدی فکر دی چه نهیلیزم انسان دسنتی تفکراتو څخه د ژغورنی لاره ده، همدارنگه نهیلستان پدی باوردی چه هیڅ ذات وجود نه لری که لری قابل شناخت نه دی که قابل شناخت وی بیا قابل دبیان نه دی.

نیچه دنهیلیزم په انتقاد داهم لیکی چه "نهیلیزم یو مکتب نه بلکی یومرض دی چه په نهایت کی دانسان ټول ټولنیزساختاربه له منځه یوسی"

د نهیلیزم یا دنیا پوچی په هکله فکری اړخونه زمونږ شرقی متفکرینو په آثار کی هم ډیر لیدل کیږی چه دغربی متفکرینو څخه حتی څو قرنو وړاندی په خپلو آثارو کی د شعر اوادب په بڼه اظهارکړی دی، له هغی جملی څخه د شرقی فیلسوف عمرخیام لاندی اثر ته توجه وشی

دنیا دیدی وهرچه دیدی هیچ است
آن نیز که گفتی وشنیدی هیچ است
سرتاسر افاق دویدی هیچ است
آن نیز که درخانه خزیدی هیچ است

خیام همدارنگه دنیا دعدم دوام اود عدم باور په هکله یو بل دری ژبی شاعر اوفیلسوف بیدل داسی وایی:

زین گذرگه به کجا دلبندم هرچی را می نگرم می گذرد.

د دوهمی نړیوال جنگ څخه وروسته دنهیلیزم فلسفی وجود څخه دوه نور فلسفی مکتبونه ایجاد شول چه یو یی:

- اگزیستانسیالیزم Existentialism او بل یی د

-ابسردویزم Obserdism په نامه دی

اگزیستانسیالیزم او ابسردویزم دواړه مکتبونو نهیلیزم،یعنی پوچی او بی معنایی د ژوند تایید کړی دی. دا چه انسان په ژوند کی اکسیجن حیات ته ضرورت دی همدارنگه لرل دمعنی او هدف دژوند دوام د حیاتی لپاره عمده موضوع گڼل کیږی ، صرف داچه څرنگه انسان دپوچی د ژوند لپاره دحل لاره پیداکړی، آخری دواړه مکتوبونه سره توپیر لری چه په لاندی ډول په لنډ شکل ارایه کیدای شی :

ولی مخکی له دی چه په Existentialism یعنی هستی گرایی تر بحث لاندی راولو لازمه ده چه لمړی دافلاطون Essentialism یعنی ذاتی یا اذلی مکتب چه د هستی گرایی مکتب ( تقدم د ذاتی او هستی ) په مقابل کی قرار لری لږ وڅیرو تر څود اگزیستانسیالیزم په هدف سم پوه شو.

د افلاطون اوسقراط نظریات چه انسان معنی او هدف هرڅه د اذله په لوح تقدیر کی له اوله لیکل شوی او هرانسان محکوم په قبولی د خپل سرنوشت دی. دا دهغه فلسفی باور دی چه نن ورځ دنیا اکثروگړی چه د مختلفو ادیانو پیروان دی هم باوراو ایمان لری. لکه چه دپښتنو یو تصوفی شاعر رحمان بابا هم داسی ویلی دی:

هرڅه شوی په اذل وی نور به نه شی

که په برخه د پیاده وی سور به نه شی

همدارنگه جبرد بخت اوازل په هکله بل دپښتنو شاعر حمید ماشوخیل داسی وایی :

هر گره گره کشا لره کم بخته

ناامید له خدایه غوټه جبین مه شه

ولی اگزسیستانسیالستان یا هستی گرایان پدی نظر دی،چه هستی مقدم د اذل ده یعنی دا چه انسان کله دنیا ته راځی لوح تقدیر یی پاک وی. دا ماحول دی چه دهغه تقدیرجوړوی.

د مثال په توگه: هیڅ څوک له اذله مسلمان یا هندو باوری سره دنیا ته نه راځی، دا مور، پلار، ماحول، مکتب او مدرسه ده چه دهغه تقدیر اود ژوند معنی ورته ټاکی.

اگزستنسیالستان وایی چه انسان تر اوسه د ژوند لپاره دری معنی گانی تعین کړی دی

۱ -فلسفی عقلانیت

۲ -دینی نهادونه او زده کړی .

۳ -علم چه وایی څه غلط او څه صحیح دی .

نهیلستان او اگزستنسیالستان او ابزردستان دریواړه مکتبونه پورته لیکل شوی دمعنی ورکونکی باورونه نفع کوی او د انسان د ذهن مولود گڼی.

اگزستنسیالستان پدی باور دی چه که ژوند معنی نه لری او دمعنی دپیدا کولو لټه هم کومه نتیجه نه ورکوی نو لازم ده، چه انسان ځانته خپل فردی خواستو او علایقو پر بنیاد یوه معنی پیدا کړی ، داچه انسان محکوم په آزادی دی خپل انتخاب خپله کوی بیا نو باید مسئولیت دخپل انتخاب هم په ورین تندی قبول کړی اوپه شور او ذوق سره ژوند وکړی .

اگزستنسیالستانو پورته نظر د فدریش نیچه دلیکلو څخه چه پخوا یی ویلی وه اخستی دی . نیچه ویلی وه:

"داچه انسان دخارق العاده ذهن خاوند او ذاتی خلاق دی باید دخپل ذهن او خلاقیت په مرسته هم د خپل د ژوند معنی ځانته وټاکی".

هایدگر هم خپل هستی و زمان کتاب کی لیکی چی:" هر فرد باید خپل دخپل څرنگوالی دهستی سره مخامخ شی ".

ابزیردیزم Obzerdism

د دی فلسفی مکتب له عمده لیکوالو ځخه یو هم دفرانسی دالبرت کامو په نامه،هغه ( کامو ) دنهیلسم په مقابل انسان ته کومی لاری اوکړنی پاتی دی په لاندی دری برخو کی توضیح کوی :

۱ -درک د انسان دیوچی له ژوند یو خواه اوعتش دپیداکولو دمعنی او هیڅ نتیجی ته نه رسیدل تصادف د دو خواستو انسان ځان وژنی ته رسوی،او بس.
ولی کامو بیا وایی چه داهم غلط عمل دی ځکه چه په خپل مرگ ژوند ته معنی ورکول دی نو داهم درست عمل نه دی او نباید وشی .

۲ -ځانته یو معنی پیداکول اوپه هم هغه ژوند کول، بیا هم کامو پدی عقده دی چه دا کارهم ځان ته فریب ورکول دی او دا عمل درست عمل نه گڼی اوپه همدی فرق لری د اگزستنسیالستانو سره .

۳ - ابسوردستان په دی عقده دی چه انسان باید د ژوند بی معنی سره مبارزه وکړی او قیام دنهیلیزم په مقابل کی اختیارکړی، هیڅ تلاش د ژوند دمعنی دپیداکولو له پاره ونه کړی بلکی بی تفاوت اوسی د ژوند د معنی و مقابل ته .
***